مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۸/۳۰

# شاهدان

## ادبي ټوټه

زما و ستا د میني شاهدان یوه توره شپه او یو سور ګلاب وو. یوه شپه، هغه هم تېره سوه. له کومه ځایه راغله او چیري ولاړه، زما په یاد ده ستا ولې هېره سوه؟

هغه سور ګل چي د محبت ډالۍ وه. هغه دي هم په هغه شپه خپل په شوخو ګوتو پاڼي پاڼي کړ، ماته دي کتل او دی دي قتل کړ.

نن وایې، کومه مینه؟

کاش چي ژوندون مي لټون سي په هغه شپې پسي او مړ سور ګل ته خپله روح ورکړم تر څو دواړه تا ته راسي زموږ د میني ګواهي درکړي!

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ